مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۱/۱۰/۰۱

# ماښامی مجلس

## (۲۹)




د میلمه په لاس کې شعري ټولګه وه چې کیناست نو څیني بیتونه یې راته وویل او زیاته یې کړه: که څه هم ټول عمر کې مې یو بیت نه دی جوړ کړی؛ خو له شاعری سره د زړه له تله مینه لرم. د ګڼو شاعرانو بیتونه راته په یادو، یاد دي.

څو ځلې یې په شیرني غاښونه کیکارل؛ خو ماته یې نه کړه. مخ یې راواړو: دا دې څه شی راوړي؟

ــ ډیر اقتصادي شی دی، له یوې شیرینکي سره پوره چایبر تشیري.

ــ موسک شو، کتاب یې راواخیست او بیا یې ویل: دا ولې څیني بیتونه له چاکلیټو هم خواږه وي او آن د زړه تل ته پریوځي؟

ــ یو خو د هر چا ذوق توپیر لري، ممکن هغه بیت چې ستا د زړه تل ته ښکته کیږي، د نورو تر مری هم و نه رسیږي.

ــ هههههه. بل دلیل؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ـ د شاعر مهارت، تصویر جوړونه، په الفاظو کنترول، یعني هر لفظ په خپل مناسب ځای کي کارول او بل هنري صداقت. یعني دا چي شاعر څه وایي، تصنع پکي نه وي. د زړه غږ یي وي.

ـ اممممم. شاید د لنډیو د خوږلنی جوهر همدا هنري صداقت وي. ځکه موږ چي له استاذانو اوریدلي و؛ نو د لنډیو اکثریت شاعراني ښځینه او نالوستي وي، خو بیا هم ځینو لنډیو کي دومره سوز وي چي په اوریدلو یي سړی بې واره سره لمبه شي. دا به همدا د هنري صداقت برکت وي. ته خو دې لنډۍ ته غوږ شه، څومره ساده ده ؛ خو څومره سوز پکي پروت دی. باور وکړه په اول ځل اوریدو می ورته سخت وژړل:

«قبر سوری کړه، حال می ګوره
چنجي لګیا د زني خال می ورانوینه»

له دې سره سم، میلمه په ژړا شو. په نوکانو یي د فرش ګرول شروع کړل. ما ویل که دا فرش تازه قبر دی، اوس به سوری شي او چنجی به د یوې نازنینې د زني د خال په ورانولو لګیا وي. سلګیو پسي واخیستم.

میلمه، پیاله پورته کړه. مسلسل ګوټونه یي تري وکړل او بیا تر ډیره غلی و. یو وخت یي راوکتل:

زموږ لنډۍ زموږ ژوندۍ تاریخ دی. زموږ د ماضي بیان دی. زموږ د ژوند هنداره ده، په دې هنداره کي یا د جګړو خونړي تصویرونه وینو او یا د فقر او ولږې. یعني موږ ټول عمر د همدې بلاګانو په منځ کي ګیر پاتي شوي یوو.

ته خو دې لنډۍ ته غوږ شه، د جګړې څه بدرنګه تصویر وړاندې کوي:

«د سر زوری انجام دي ولید
د لښکر مخکي، مخکي تلي کونډه دي کړمه»

زه چي هر وخت دا لنډۍ اورم، د زړه په سترګو یي وینم چي د انګړ منځ کي کټ ایښی. په وینو ککړ جسد پکي پروت دی. یوه تازه واده شوې، برنډه کي حیرانه ولاړه ده، له شرمه کټ ته ور نږدې کیدای نشي او ځان سره غلي غلي همدا لنډۍ وایي.

میلمه غلی شو. زما هم ګني کونډې د زړه له سترګو تیري شوې، لکه هره یوه چي همدا لنډۍ وایي .
یوه شیبه دواړه غلي وو؛ خو ما سکوت مات کړ:

تاسو مخکي وویل چي زموږ لنډۍ یا د جګړې بیان دی او یا د فقر. بلکل همداسی ده. فقر له جګړې سره تړلی دی. وګورئ، ننني په ګیډه مړه او ارامه اروپا د نړیوالو جګړو په مهاله وږې وه، په المان کي په سلګونو خلکو له مایوسی ځان وژني کولې. د خوراک لپاره یي څه نه لرل او په ډیر بد وضعیت کي وو؛ خو چي له جګړې راووتل، کار ته یي کار وویل او د خپل وطن د ابادۍ په فکر کي شول نو خوشبختیو ورته غیږې پرانیستي. دومره نیکمرغه شول چي نه یوازې زموږ ، بلکي د ګڼو اسلامي هیوادونو تکړه مسلمانان هم هلته د رسیدو او ژوند کولو ارمانونه او کوښښونه کوي.

میلمه، پیاله کیښوده: رښتیا دې وویل، خو چي دا موږ ته به کله نیکمرغي غیږه پرانیزي؟ وګوره، هغه لنډۍ چي لسیزې حتی پیړۍ پخوا ویل شوي او له ولږې پکي سر ټکول شوی؛ نن هم داسي تازه او د حال مطابق ښکاري لکه چي همدا اوس چا جوړه کړې وي. یعني دې اوږده دوره کي مو هیڅ تغییر نه دی کړی. ته خو دې لنډۍ ته غوږ شه: غاړه یي تازه کړه، خو غریو ونیوه. بیا یي له لږ وقفي وروسته ژوره ساه واخیسته؛ خو ژبې ور سره یاري ونکړه. پیاله یي پورته کړه. حلق یي تازه کړ او بیا یي ویل:

«مرګی خو ښه دی، پرده پوښ دی
بده نیستي ده عالمونه شرموینه»

له دې سره یي دومره وژړل، لکه دی چي هم نیستۍ ښه پسي راخیستی وي. لکه دی چي هم د مرګ پرده پوښي غواړي. څو ځلي مي کوښښ وکړ چي ډاډ ورکړم، خو دې لنډۍ کي زموږ د لکونو هیوادوالو د ژوند عکاسي پرته وه. داسي مي انګیرله لکه ټول ښار چي همدا لنډۍ وایي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

تر ډیره حجره خاموشه وه، یو میاشی بنګیده. کله به ماته نږدې شو او کله میلمه ته؛ خو پوهیده چې دواړو کې وینه نه ده پاتې، شرم به ورته ورغی، بیرته به پورته شو.

میلمه څادر پر اوږه کړ؛ خو مخکې له دې چې جیګ شي، مخ یې راواړو: یوه داسې لنډۍ خو راته ووایه چې ستا زړه ته یې هم لاره پیدا کړې وي.

فکر کې لاړم، ګڼې لنډۍ مې مغز کې تاوې راتاوې شوې. ما ویل راځه د حسن اختتام لپاره داسې لنډۍ پیدا کړه چې هیله پکې وي، امید پکې وي. اخر مې دا انتخاب کړه:

«بورا به خدای په ګلو موړ کړي
ملیاره ستا نیمګړې نیت مې ژړوینه»

میلمه ته لنډۍ خوند ورکړ، تنده یې پراخه شوه. د بیا ویلو غوښتنه یې وکړه. بیا مې تکرار کړه. پورته شو او په تلو تلو کې یې ویل:

ـ یعنې زموږ وږې به ماړه شي؟

ـ هو، بلکل، ډاډه اوسه.

ـ یعنې دا فقر او بدبختي به ورکه شي؟

ـ هو، بیخي ډاډه اوسه!

ـ په خپلو ځوابونو دې ځومره ډاډه یې؟

ـ سل په سلو کې؛ خو په یوه شرط!

ـ میلمه بیرته راتاو شو: په کوم شرط؟

ـ چې له ځانغوښتنې تېر شوو. چې د وطن د بښیرازۍ لپاره کار وکړو. چې یو بل ته د اخلاص غیره پرانیزو. چې د هر چا له کاري وړتیا، پرته له هر ډول تعصب او توپیره، په مناسب ځای کې کار واخلو او...

میلمه موسک شو: د دې شرایطو پوره کول هم، د ستنې له سپمه د اوښ ویستل دي او بیا ګړز شو چې ور یې پورې کړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ